# ضَرَبَ اللهُ مَثَلًا صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا

نَوَّاس بن سمعان الأنصاري رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روایت کوي چې فرمايلي يې دي: «ضَرَبَ اللهُ مَثَلًا صِرَاطًا مُسْتَقِيمًا، وَعَلَى جَنْبَتَيْ الصِّرَاطِ سُورَانِ، فِيهِمَا أَبْوَابٌ مُفَتَّحَةٌ، وَعَلَى الْأَبْوَابِ سُتُورٌ مُرْخَاةٌ، وَعَلَى بَابِ الصِّرَاطِ دَاعٍ يَقُولُ: أَيُّهَا النَّاسُ، ادْخُلُوا الصِّرَاطَ جَمِيعًا، وَلَا تَتَعَرَّجُوا، وَدَاعٍ يَدْعُو مِنْ فَوْقِ الصِّرَاطِ، فَإِذَا أَرَادَ يَفْتَحُ شَيْئًا مِنْ تِلْكَ الْأَبْوَابِ، قَالَ: وَيْحَكَ لَا تَفْتَحْهُ، فَإِنَّكَ إِنْ تَفْتَحْهُ تَلِجْهُ، وَالصِّرَاطُ الْإِسْلَامُ، وَالسُّورَانِ: حُدُودُ اللهِ، وَالْأَبْوَابُ الْمُفَتَّحَةُ: مَحَارِمُ اللهِ، وَذَلِكَ الدَّاعِي عَلَى رَأْسِ الصِّرَاطِ: كِتَابُ اللهِ، وَالدَّاعِي مِنْ فَوْقَ الصِّرَاطِ: وَاعِظُ اللهِ فِي قَلْبِ كُلِّ مُسْلِمٍ». "الله تعالی د نېغې لارې مثال - داسې - بيانوي چې د لارې په دواړو خواو کې دوه دېوالونه دي، او په هغې کې خلاصې دروازې دي، او پر دروازو پردې راځوړندې دي، او د لارې په دروازه يو بلونکی وايي: اې خلکو! ټول په ګډه لارې ته ننوځئ او غاړو او څنډو ته مه ورکږېږئ، او د لارې له پاسه بل بلونکی دی، نو هر کله چې لاروی وغواړي لدې درواځو څخه څه پرانيزي وايي: افسوس دی پر تا، مه يې خلاصوه، ځکه که تا خلاصه کړه نو خامخا به ورننوځې، او دا نېغه لار اسلام دی، او دوه دېوالونه د الله تعالی حدود دي، او خلاصې دروازې، د الله تعالی محارم دي، او هغه د لارې پر سر بلونکی د الله تعالی کتاب دی، او د لارې د پاسه بلونکی له الله تعالی څخه هغه وېرونکی مبلغ دی چې د هر مسلمان په زړه کې دی».

[صحيح]

رسول الله صلی الله علیه وسلم بيان کړی چې: الله تعالی د اسلام لپاره په نېغه لار يو مثال وړاندې کړ چې دغه لار سيده ده او هيڅ کوږوالی پکې نشته، او د لارې په دواړو غاړو دوه دېوالونه دي چې تر څنډو يې راچاپېر دي، او دا دواړه د الله تعالی حدود دي، پدې دواړو دېوالونو کې خلاصې دروازې دي چې هغه د الله تعالی محارم دي، او په هغو دروازو پردې دي چې تېرېدونکي ته نه ښکاري د لارې دننه څوک دي، او د لارې په سر يو بلونکی دی چې خلکو ته لارښوونه کوي او ورته وايي: په لاره - نېغ- ځئ، پرته لدې چې غاړو او څنډو ته يې ورکاږه شئ، او دا بلونکی د الله تعالی کتاب دی، او هلته د لارې پر سر يو بل بلونکی دی؛ او دا بلونکی چې کله په لارې تلونکی وغواړي د دروازو پردې يو څه خلاصې کړي نو ويې رټي او ورته وايي: افسوس دی پر تا مه يې خلاصوه! که چېرته يې ته خلاصه کړې نو خامخا به ورننوځې او هېڅکله به ونکړای شې چې ځان له ننوتلو ايسار کړې، او دا بلونکی د هر مسلمان په زړه کې د الله تعالی مبلغ دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65049

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee